د انسان د اسلام ښکلا پدې کې ده چې هغه څه پرېږدي چې د ده پورې اړه نه لري

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «د انسان د اسلام ښکلا پدې کې ده چې هغه څه پرېږدي چې د ده پورې اړه نه لري».

[النووي وايي: حسن حديث دی] [الترمذي او نورو روايت کړی]

نبي صلى الله عليه وسلم بيانوي چې د مسلمان د اسلام د ښکلاوو کمال او د ايمان بشپړتيا پدې کې ده چې هغه له هغو خبرو او کارونو ځان لرې وساتي چې د ده پورې اړه نه لري، نه ورته مهم وي او نه يې پکې ګټه وي؛ يا دا چې په ديني او دنيوي چارو کې ورته مهم نه وي، ځکه په هغو شيانو بوختيا چې انسان پورې اړه نه لري، کېدای شي هغه له مهمو کارونو څخه وګرځوي، يا يې داسې کارونو ته اړباسي چې ځان يې ترې بايد ساتلی وی، ځکه انسان به د قيامت په ورځ د خپلو اعمالو په اړه پوښتل کېږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65255